# پښتنو ته د باچا خان بابا خطاب

فطرت

ضروري يادونه: په پښتو ادب کښې چې شعر په نثر بدل کړے شي دې ته "حل" وائي، هم داسې چې نثر بيا په شعر واړول شي دې ته په ادبي ژبه کښې "عُقد" وائي.



پښتنو ته د باچا خان بابا خطاب هم د عُقد (صنف يوه نمونه ده. مذکوره نظم د بابا مرحوم د دوه ويشتم تلين په ياد وئيل شوے دے او بل لوستونکو ته دې ياده وي چې بابا مرحوم د برصغير د ازادۍ هيرو دے، دۀ د ټولو قامونو دپاره په عام ډول او د پښتون قام د ازادۍ دپاره په خاص ډول د عمر نيمه برخه په جېل کښې تېره کړې ده او پوره اويا کاله ئې خدمت کړے دے. د اصلاح افاغنه تحريک ئې چلولے دے، د پښتنو د شعوري بېدارۍ دپاره ئې ازادې مدرسې جوړې کړې دي. د خدمت په جذبه ئې خدائي خدمتګار تحريک راوويست، د پښتو ژبې د خدمت دپاره ئې پښتون رساله چلوله، د پښتو او پښتنو ئې خدمت کړے دے، پښتو ته ئې ډېر اديبان پېدا کړل او بيا دغو اديبانو پښتو ته د کتابونو په شکل کښې بېخي زيات کتابونه ورکړل.

په عملي توګه په خپله هم يو ژوندے او متحرک سړے ؤ. باچا خان بابا کۀ څۀ هم يو ستر سياسي ليډر او مدبر ؤ، ليکن بيا هم دۀ تر سياست زيات خدمت کړے دے. دے يو وخت د کانګرس سره هم اتحادي ؤ او د انګرېز سخت مخالف ؤ. دے وائي چې انګرېز د مسلمان قام د ختمېدو دپاره د مسلم ليګ ډله راوويسته او د کانګرس د وهلو او ځپلو دپاره ئې په مسلم ليګ ډله تکيه وکړه. بابا محترم وائي چې اخر کانګرس هم ماته دوکه راکړه (وګورئ د باچا خان ژوند او جدوجهد) باچا خان بابا د برصغير د ازادۍ دپاره ډېرې هڅې کړې دي، داسې د پوره معلوماتو د ترلاسه کولو دپاره دا خبرې بايد د باچا خان بابا د خپلې خُلې نه په نظم "پښتنو ته د باچا خان بابا خطاب" کښې لولو. مننه

هيڅ خواري درباندې را مۀ شه په ژوند کښې
خدائے مو وساته خوشحاله او اباد هم
باچا خان يمه بايد چې مې قبول کړئ
نېکې هيلې سلامونه، احساسات هم

حقائق به تاریخي درته ښکاره کړم
د زړهٔ حال به درته وو ایم ملګرو
خدائے دې وکړي چې باعث د تکلیف نهٔ شم
درنه غواړم اجازه د څو خبرو

وصیت درته کوم پښتنو ورونو
په ژوندون به د اغیار په لاره ځئ نهٔ
د دعا او د سلامه پس عرض دا دے
خامخا به مې خبره ردوئ نهٔ

دا اویا کاله څهٔ کم مشقت نهٔ دے
ما په ځان وړې بېخي ډېره خواري ده
پوره وړې ده دا خاوره مې د هڅو
پاک و هند ته مې ګټلې ازادي ده

د هیچا نه مې خوړلې ماتې نهٔ ده
دښمنانو ته ولاړ لکه زمرے یم
دا نسلونه به مې بیا په نامه ویاړي
په تاریخ د اېشیاء کښې به ژوندے یم

په سن (۱۹۲۱) نولس سوه یویشت کښې لګیا شوم
د رڼاؤ مې بنیاد څو منارې کړې
په دا نیت چې تاسو شاته پاتې نهٔ شئ
درته جوړې مې ازادې مدرسې کړې

پښتانهٔ مې کړل راویښ له درانهٔ خوبه
جوړ مې هر ځائے پېرنګي ته مصیبت کړو
چې اصلاح د دغه خاورې شي ممکنه
افغاغنه تحریک مې جوړ په دغه نیت کړ

رشک دنیا ورباندې وکړو بې له شکه
د بېخي ښو انسانانو نوم ئې یوړو
د خدمت دپاره پورته پښتانهٔ شو
د خدائي خدمتګارانو نوم ئې یوړو

تل په مرسته د خوارانو لګیا اوسي
د سرخ پوشو ډله داسې خدمتي ده
کښېناستلے یو هم نهٔ دے په ارامه
د دې خلقو سره مله د قام راستي ده
لا اخته یم لا قرار مې نصیب نهٔ شهٔ
توره ږیره مې شوه سپینه په خدمت کښې
لا هغسې ګرځندے لکه زلمے یم
لا هم هغسې ځم مخ ته په همت کښې

په چوپړ د پښتون نهٔ یم ستومان شوے
دغه ژبه ماته دین، ماته ایمان ده
مور زاده په پښتنو باندې مئېن یم
پښتونخوا راباندې ګرانه تر خپل ځان ده

چې اګاه په لر و بر شي ورته یو شي
اثاثې مې د تمامو پښتنو دي
د سیاست سره سره په ادب پوهه یم
کتابونه مې چاپ شوي د پښتو دي

د خدائي خدمتګارانو برکت دے
پېرنګيان له مونږه لاړل ملک ازاد شو
د ښځي ډېره محنته پس دا وشوه
خوشحالي راباندې راغله مونږه ښاد شو

# پېغام

زما ښو نه عبارت ژوندون ته ګورئ
ما ښځي کړے بد کار په ژوند کښې نۀ دے
تاسو وپېژنئ څۀ ده زما لاره؟
ما خوښ کړے اقتدار په ژوند کښې نۀ دے

هر سړے ورباندې تلې شي په اسانه
د باچا خان لاره نۀ ده چپه رپه
بله دا خبره واورئ کۀ پوهېږئ
ځان پرسته خلق وباسئ له صفه

تمامي عمر مې تېر شو په چوپړ کښې
کښېناستلے يوه ورځ نۀ يم بېکاره
بايد تاسو هم زما پېروي وکړئ
کۀ ما غواړئ شئ روان زما په لاره

فرق د عام سړي او ستاسو سره ورک شو
د سُرخ پوشو شېوه دا نۀ ده امته
زۀ مو وينم اقتدار وته موسېږئ
لاس تر زنې لاندې ناست يئ بې خدمته

تش د خدائے د پاره کار مونږ ته پکار دے
غرضي سړي منم د سزا ور دے
ما جوړ کړے منشور ولولئ تر پايه
د خدائي خدمتګارانو کار چوپړ دے

په حسب نسب ولاړه نۀ ده ورونو
خدمتي سړي بهتر دے زما ګوند کښې
د عمل جامې په غاړه کړې ورووځي
د بېکارو نه بېزاره يم په ژوند کښې

خامخا به لاس نيوې کول د خلقو
په خوارانو به منت کله کوئ نۀ
عملي جامه به واغوندئ ملګرو
دا خبرې به مې شاته غورځوئ نۀ

سادګي ته بايد ټول رامخامخ شئ
د اصراف او نمائش لاره ايله کړئ
بل چې هر څۀ کوئ وکړئ په ژوندون کښې
خو د ځان د ستائش لاره ايله کړئ

همدردي د انسانانو ضروري ده
يو د بل سره پکار هم صداقت دے
دين، ايمان او عقيده به جوړوو مونږ
د سياست سره پکار روحانيت دے

رب به درکاندې توفيق زما د لارې
ځئ او لاړ شئ او توکل ورباندې وکړئ

څۀ خبرې مې په دا نیت درته وکړې
تاسو ټول باید عمل ورباندې وکړئ

سړے نۀ شي د زړۀ حال چاته وئیلے
څۀ عجب جوړه د مکر زمانه ده
اعتبار په څان پرستو پکار نۀ دے
ما خوړلې د کانګرس څخه دوکه ده

مسلمان ته څۀ ورپاتې نۀ شو خدایه
هندوستان ټوټه ټوټه کړو ظالمانو
د لیګیانو مرسته هم ورسره مل وه
خدائے دې وکاږي ریښې د پېرنګیانو

د اووۀ څلوېښت له پېښې سبق واخلئ
در په دره مسلمان شو که پوهېږئ
څۀ نخرې په غریبانو باندې وشوې
هر سړے په څان حېران شو که پوهېږئ

خدایه څنګه بده ورځ ته مخامخ دي
پښتانۀ په خپلو وینو کښې لمبېږي
که هر څو ئې هېروم ممکنه نۀ ده
د بابړې پېښه کله مې هېرېږي

که سازش د پېرنګیانو شوے نۀ وے
پښتانۀ به اوس ختلي وے مریخ ته
نور به نۀ وکړم زۀ ذکر د ناخوالو
قضاوت پرېږدم یوائې و تاریخ ته

سره ناست دي په جلا جلا کمبلو
ورته ګورئ سره نۀ پوهېږي واړه
نۀ په دین نۀ په دنیا باندې اګاه دي
دا جاهله دي په څۀ پوهېږي واړه

په لنډ ډول مې څۀ پېښې درته یاد کړې
وار په وار مې درته وکړې څۀ خبرې
دا په دې چې تاسو ټول وربانديې پوهـ شئ
ښۀ قرار قرار مې وکړې څۀ خبرې

بېخي ګران الفاظ مې نۀ دي کارولي
په ساده خبرو خلق ښۀ پوهېږي
مختصره درته وغږېدم ورونو
نور زما مجلس دریاب دے نۀ ختمېږي

په دعا مو یادوم د خبر په هیله
خدائے تعالٰي ته زۀ په هر نمانځۀ کښې ژاړم
ستاسو ډېر قیمتي وخت مې در ضائع کړو
درنه غواړم اجازه په خدائے مو سپارم